# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن (د هیواد لیکنه)
۲۱ جنوری ۲۰۱۸

## د کار نشتوالی زیارکښان د ترهګری لیکې ته لېږي

د امریکایي براون پوهنتون د څېړنې له مخې د ۲۰۰۱ کال راهیسي د افغانستان په جګړه کې شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰ وګړي وژل شوي دي. دا اکثریت وګړي که افغان سرتیري، ساتوونکي، د بازار کوچني پلورونکي، د شخصي یا دولتي ادارو منځني یا ټیټ کچه کارکوونکي، د کان کېندوونکي یا کروندګر دي، د مړی د ګټلو لپاره د دندې په لاره کې وژل شوي دي. د دوی وژونکي هم څو ډوله دي، له یوې خوا په اصطلاح د دموکراسی راوړونکي بهرنیو ځواکونو په راز راز ډول خلک وژلي، له بلې خوا ترهګرو د جهاد په نوم د ملکیانو وژلو ته مخه کړې او له بلې خوا زورواکه قومندانانو هم په خپل وار د خلکو له وژنې ډېډه کړی نه ده.

له بده مرغه د افغانستان د جګړې د دوام لپاره چې د بهرنیانو او د مافیا په ګټه دی، هر اړخ سنجول شوی چې له دې ډلې پلان شوې بیکاري کولای شي د هغوې د جګړې ځواک پیاوړی کړي. د دې بدې جګړې ځواک د افغانستان هغه بېکاره او شاته پاتې ټولنه جوړوي چې ناچاره دي د ژوند ادامې لپاره د کار لپاره هره دروازه ووهي؛ همااغه رنګ چې اوسني دولت چې د بم اچونکو بهرنیو سرتیرو ملاتړ له ځان سره لري بیوزله بیکاران په اردو کې تنظیموي، همدا ډول بیرحمه طالبان او داعشیان هم د خلکو له بیوزلی او بیکاري ګټه پورته کوي او خپلو لیکو ته یې راکاږي.

د دې لپاره چې دا جګړه هره ورځ په سلګونو مړي په شا پرېږدي، نو جګړه پالان اړتیاویني چې د عامو او زیارکښو خلکو د راښکېلولو په موخه دا بېکاري او اقتصادي کمزورتیا په خپل ځای وساتي. په لویدیځو ولایتونو کې ایران هڅه کړې ده چې خپله ډله طالبان د بې وزلو خلکو د مجبوریت څخه په ناوړه ګټه اخیستلو سره جوړ کړي. له دې سربېره، په ایران کې افغان زیارکښان چې په یوه مړی ډوډۍ یې بسیاینه کوله، د اسلامي دولت د ناوړو اهدافو او د بنو ګټو د ترلاسه کولو په پلمه د سوریې جګړې ته استول شوي چې یو یې هم ژوندی پاتې شوی نه دی.

همدا ډول د افغانستان په ډېرو ولایتونو د ساري په توګه د ننګرهار ولایت په خیوې ولسوالی کې ترهګر په ټولنو کې جاسوسان او تبلیغیان لري چې زیارکښان او د هغوی زامن د میاشتې ښه عاید په نامه د ترهګرو لیکو ته راکښوي. که ټول نه ځینې زیارکښان د مجبوریته، دا وړاندیز مني. د ترهګری په لیکه کې دوی ته د ۲۰۰ تر ۳۰۰ ډالرو پورې ورکول کېږي.

تر هغه چې بیوزله زیارکښان هوساینې ته ونه رسیږي او پر برابری ولاړه ټولنه جوړه نکړي، د هغوی له مجبوریتونو او بیوزلی څخه به بیلابیل ستمګران د خپلو ګټو لپاره کار اخلي. زیارکښان باید په دې پوه شي چې د بل

لپاره په نوکرۍ، مزدورۍ او کار کولو هيڅکله هوساينې ته نه رسيږي، بلکې يوازينی لاره دا ده چې په خپله په هغه ځواک تبديل شي چې پر برابرۍ ولاړه ټولنه رامنځته کړي څو نور د ستمګرانو د سرتيرو په توګه ونه وژل شي.